رئاسة الشؤون الدينية
بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

# په لنډ ډول د حج طريقه

المختصر في صفة الحج | بشتو | پښتو

اللَّجْنَةُ العِلْمِيَّةُ
بِرِئَاسَةِ الشُّؤُونِ الدِّينِيَّةِ بِالمَسْجِدِ الحَرَامِ وَالمَسْجِدِ النَّبَوِيِّ

# الْمُخْتَصَرُ فِي صِفَةِ الْحَجِّ

# په لنډ ډول د حج طریقه

اللَّجْنَةُ العِلْمِيَّةُ

بِرِئَاسَةِ الشُّؤُونِ الدِّينِيَّةِ بِالمَسْجِدِ الحَرَامِ وَالمَسْجِدِ النَّبَوِيِّ

بِسْمِ اللّٰه الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

پیلیزه:

الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلامُ عَلَى نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِهِ وَصَحْبِهِ أَجْمَعِيْنَ.

أما بعد:

دا د حج د ادا کولو د طریقې په اړه یو لنډ پیغام دی، موږ هڅه کړې چې ډیرې هغه مسائل پکې بیان کړو چې حاجي ورته اړتیا لري.

موږ له الله جل جلاله څخه سوال کوو چې خاص د خپلې رضا لپاره یې وګرځوي او عامو مسلمانانو ته پرې ګټه ورسوي.

د مسجد الحرام او مسجد نبوي د دیني چارو د ریاست
تر مشرۍ لاندې علمي کمېټه

❊❊❊

## لومړی: د عبادت د قبلېدو شرطونه:

د الله تعالی په نزد عبادت په دوو شرطونو سره قبلیږي:

اخلاص، چې موخه ترې یوازې د الله تعالی رضا او د آخرت ثواب وي، الله تعالی فرمایلي: ﴿وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ ...﴾ [البينة: ٥] ، ژباړه: «حال دا چې دوی ته حکم نه و ورکړی شوی مګر په دې چې دوی دې د الله عبادت کوي، په داسې حال کې چې دین (عبادت) دغه (الله) لره خالص کوونکي وي»[١] (البینة سورت: ٥ آیت). او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: ژباړه: «اعمال د نیتونو پربنسټ دي، او هر چا ته هغه څه ورکول کېږي چې څه يې نیت کړی وي»[٢].

په وینا او عمل سره د نبي صلی الله علیه وسلم پیروي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «چا چې زموږ په دین کې نوي شیان را پیدا کړل چې له هغې څخه نه وي، هغه مردود دي» [٣]. او په صحیح مسلم حیث دی. ژباړه: «که څوک داسې کوم کار وکړي چې زمونږ د دین امر پرې نه وي، هغه مردود دی» [٤].

***

(١) یعني: هغه ته او د هغه عبادت ته رجوع کول، او له هغه پرته له ټولو مخ اړول. د سعدي تفسیر (مخ ٥٣٨).

(٢) بخاري په (١) شمېره، او مسلم په (١٩٠٧) شمېره، روایت کړی دی.

(٣) بخاري په (٢٦٩٧) شمېره، او مسلم په (١٧١٨) شمېره، روایت کړی.

(٤) مسلم په (١٧١٨) شمېره روایت کړی دی.

# د حج لنډه طریقه

## لومړی: د میقاتونو احکام:

**میقاتونه:** هغه ځایونه دي چې نبي صلی الله علیه وسلم د حج او عمرې کولو لپاره د احرام تړلو ځایونه ټاکلي دي.

څوک چې د حج یا عمرې په نیت د دې میقاتونو څخه له یو نه تېرېږي، نو پرې واجب دي چې احرام ترې وتړي، او له احرام پرته ترې تېریدل روا نه دي.

څوک چې له دې میقاتونو څخه مکې ته نږدې وي: د هغه میقات د هغه خپل ځای دی؛ نو د حج او عمرې لپاره له هماغه ځای څخه احرام کوي.

او د مکې خلک او څوک چې پکې استوګن دي: د حج لپاره له مکې څخه احرام کوي، او د عمرې لپاره: له مکې څخه د باندې حِل ته وځي او احرام ترې کوي لکه: تنعیم او داسې نور.

که څوک په الوتکه کې وي: هغه وخت احرام تړي چې الوتکه د میقات برابرې ته ورسېږي، نو میقات ته له رسېدو مخکې د احرام جامې چمتو کوي او اغوندي، او کله چې میقات ته ورسېږي سمدلاسه احرام کې د داخلیدو نیت کوي، دا ورته روا نه ده چې هوايي ډګر کې تر کوزیدو پورې احرام وځنډوي، هغه کولی شي میقات ته له رسېدو مخکې د تلبیې په ویلو سره د احتیاط له مخې تلبیه ووايي او احرام وکړي، لدې ویرې چې د تلبیې ویلو ځای ترې د طیارې د چټکتیا له امله تېر نه شي.

## دویم: د مناسکو ډولونه او د هغوی احکام:

**مناسک په درې ډوله دي:** تمتع، إفراد او قِران.

**تمتع** د هغه چا لپاره غوره دی چې قرباني يې له ځان سره نه وي وړي، او تمتع دې ته وايي چې: د حج په مياشتو کې د عمرې احرام وکړي، طواف او سعي وکړي او بيا له احرام څخه ځان خلاص کړي، بيا په همغه کال کې د حج لپاره احرام وکړي.

او **اِفراد** دې ته وايي چې يوازې د حج لپاره احرام وکړي، کله چې مکې ته ورسيږي ورته سنت دي چې لومړی د قدوم طواف او بيا ورپسې سعي وکړي، خو سر به نه خريي او نه به يې کموي او له احرام څخه به ځان نه خلاصوي، بلکې تر هغه پورې به په احرام کې پاتې کيږي چې د اختر په ورځ د عقبې جمره وولي. او که چېرته يې د حج سعي د حج طواف ته وروسته کړه هم باک نه لري.

او قِران دې ته وايي چې د عمرې او حج لپاره يو احرام وکړي او ووايي: (لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ عُمْرَةً وَحَجّـًا) (ای الله د عمرې او حج کولو اراده لرم).

او د **قَارن** عمل لکه د مُفرِد په څېر دی، پرته له دې چې په قارن قرباني شته او په مفرد نشته.

دريم: د احرام طريقه او حکمونه:

احرام کوونکی بايد لاندې کړنې تر سره کړي:

**غسل**: د نارينه او ښځو لپاره سنت دی، حتی د حيض او نفاس لرونکو لپاره.

خوشبوی لګول: نارينه په سر او ږيره کې عود يا بل ډول خوشبويي کارولی شي، او له احرام وروسته يې په (بدن کې) د خشوبويي اثر پاتې کېدل زيان نلري، او د ښځو لپاره د خوشبويي استعمالول جواز نلري؛ ترڅو نامحرم

نارينه يې بوی نه کړي.

د احرام جامې اغوستل، چې هغه د نارينه و لپاره لنګ او څادر دي، سنت دا ده چې سپينې پاکې او يا نوي وي، او ښځه دې د احرام لپاره هر هغه څه واغوندي چې زړه يې غواړي، خو چې ډول او سنګار په کې نه وي، همدارنګه د نقاب او دستکشو اغوستلو څخه دې ډډه وکړي، او خپل مخ او لاسونه دې په بل څه سره پټ کړي.

احرام تړل د لمانځه پسې مشروع دي، که هغه فرض لمونځ وي يا نفل، خو دا کار واجب نه دی.

نو که چېرته يې عمره کوله: (لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ عُمْرَةً) به وايي، او که يې حج کاوه او حج يې افراد و نو (لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ حَجّاً) به وايي، او که حج يې قارن و نو: (لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ عُمْرَةً وَحَجّاً) به وايي.

که چيرته احرام کوونکی ويره ولري چې د مناسکو د بشپړولو په لار کې به ورته کوم خنډ پيدا شي، نو ورته روا دي چې مشروط نيت وکړي او ووايي: (وَإِنْ حَبَسَنِي حَابِسٌ فَمَحَلِّي حَيْثُ حَبَسْتَنِي) (که چيرته د کوم خنډ له امله بند پاتې شوم، نو له احرام څخه د خلاصيدو ځای به مې همغه وي چېرته چې بند پاتې شوم)، نو کله يې چې دا شرط ولګاوه او بيا ورته کوم خنډ پيدا شو چې له امله يې مناسک پوره نه کړای شول، نو له احرام څخه به ځان خلاص کړي او هيڅ شی پرې نشته.

"بيا به زياته تلبيه وايي: (لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ،

إِنَّ الحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ)[١]، چې سړی به يې په لوړ غږ وايي او ښځينه يې هم د بيګانه سړيو په نه شتون کې په لوړ غږ ويلی شي، د احرام کوونکي لپاره مناسب ده چې تلبيه ډيره تکرار کړي، په ځانګړې توګه کله چې حالات او وخت بدلون ومومي لکه په لوړ ځای ختل، يا په ځوړې ښکته کېدل، يا دا چې شپه راشي يا ورځ شي.

په عمره کې تلبيه ويل له احرام تړلو څخه د طواف تر پېلولو پورې روا ده، او په حج کې له احرام تړلو څخه تر دې پورې چې د اختر په ورځ د عقبې جمرې په ويشتلو پيل وکړي.

پر محرم واجب دي چې د احرام تر پايه له ممانعتونو څخه ځان وساتي.

خلورم: د احرام ممانعتونه:

**د احرام ممانعتونه په لاندې ډول دي:**

(١) د "**لبيك**" ويلو معنى دا ده چې، ای ربه! په وار وار ستا د امر تابع يم، او معنا يې داده چې بنده د خپل رب بلنه ومني او پيروي يې وکړي.

"**إن الحمد والنعمة لك والملك** " **الحمد**: په کمال او بشپړتيا سره د ستايل شوي ذات يادونه ده، نو کله چې دا الفاظ تکرار شي ثناء ويلو ته اوړي. (**والنعمة**) نعمت: هر هغه څه ته وايي چې الله تعالی يې په خپل بنده لورينه کوي چې غوښتل شوی شی تر لاسه کړي او ناخوالي ترې چېچې کړي او د (**الملک**) معنا دا ده چې: پادشاهي تا لره ده، ځکه يقينا چې حقيقي پادشاه يوازې الله دی، او د (**لا شريک لک**) معنا دا ده چې: ای الله! تا سره ستا په ځانګړو بشپړو صفتونو کې هيڅوک شريک نه دی چې له هغو صفتونو څخه په پادشاهی، خالقيت، د چارو تدبير او الوهيت کې يووالی دی. په لنډه توګه له: مجموع فتاوى ورسائل العثيمين (٢٢/ ٩٦).

د بدن له هر ځای څخه ویښتان خریل، کمول او یا ویستل.

د پښو یا لاسونو ټول یا ځینې نوکان پرې کول.

سر د هغه څه سره پټول چې پرې نښتی وي لکه: خولۍ، دستمال، پګړۍ، یا په سر څادر او رومال اچول، یا په کمپلې، کارتن یا بل داسې څه سره سر پټول چې موخه ترې د سر پټول وي. دا مانع یوازې د سړیو لپاره دی، پرته له ښځو څخه.

د بدن په اندازه منظمې جامې اغوستل؛ هغه چې خلک یې په عادي حالت کې اغوندي لکه: جوړې شوې جامې؛ کمیس او پرتوګ، جرابې او دستکشې. دا خاص د نارینه وو لپاره دي پرته له ښځینه وو؛ ځکه د ښځینه په حق کې یوازې:

نقاب، برقع، یا هغه څه چې د مخ پټولو لپاره د نقاب په څېر استعمالیږي منع دي، او د بېګانه سړیو د شتون پر مهال باید ښځه خپل مخ پټ کړي اګر که پرده یې له مخ سره هم لګیږي؛ او دا ورته روا ندي چې بل څه د دې لپاره په سر کلک وتړي چې څادر یې له سر سره ونه لګیږي؛ ځکه د دې کار د مشروعیت لپاره کوم دلیل نشته.

دستکشې په لاسونو کول، او د بېګانه سړیو د شتون پر مهال پرې د لاسونو پټول واجب دي چې په عبایه (حجاب) کې یې دننه کړي.

په بدن او د احرام په جامو کې خوشبويي لګول.

د وچې ښکار وژل، یا یې له وژلو پرته ښکار کول.

د ځان او یا بل چا لپاره مرکه یا خواستګاري کول.

د نکاح تړون.

له جماع پرته نږدېوالی لکه: ښکلول، او په شهوت سره لمس کول.

جماع، يعنې په شرمګاه کې کوروالی کول.

***

## پنځم: د طواف طريقه:

کله چې مُحرم مسجد الحرام ته ننوځي، نو سنت دي چې ښی پښه مخکې کړي او د جومات ته د ننوتلو دعا ووايي، يو له هغو معتبرو روايتونو څخه چې پدې اړه روايت شوی دا دی چې ووايي: (اللَّهُمَّ افْتَحْ لِيْ أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ)، «اې الله! زما لپاره د خپل د رحمت دروازې خلاصې کړه» دا دعا هر جومات ته د ننوتلو پر مهال ويل کېږي، او يوازې په حرم شريف پورې محدوده نه ده.

کله چې وغواړي طواف پيل کړي، نو تلبيه دې بنده کړي، او **اضطباع** دې وکړي، د **اضطباع طريقه دا ده چې**: سرې د خپل (څادر) منځنۍ برخه خپل ښي (تخرګ) لاندې تېره کړي، او دواړ پېڅکې په کينه اوږه راواړوي، کله چې طواف پای ته ورسوي، نو څادر دې بېرته معمول حالت ته راولي (څنګه چې له طواف څخه مخکې و)؛ ځکه چې اضطباع يوازې د طواف پر مهال کيږي.

بيا به حجر الأسود ته لاړ شي او په ښي لاس سره به يې لمس او ښکل کړي، که ښکلول ورته ناشوني و، په لاس سره دې لمس کړي او لاس دې ښکل کړي، که چېرته يې په لاس لمسول ناشوني و، په يو بل څه سره دې يې لمس کړي لکه: امسا او يا بل څه او ښکل دې يې کړي، او که دا کار هم ناشونی و مخامخ دې ورته ودرېږي او په لاس سره دې ورته اشاره وکړي او لاس دې نه

ښکلوي، غوره دا ده چې تېل ماتېل جوړ نه کړي او خلک ازار نه کړي.

د حجر الأسود د لمسولو، یا ورته اشارې کولو پر مهال به (الله أکبر) وايي.

بیا به ښي لاس ته حرکت وکړي، چې کعبه شریفه یې چپ لاس ته راشي، کله چې یماني رکن ته ورسیږي هغه به له ښکلولو پرته لمس کړي، که دا کار ناشونی و بیروبار به نه جوړوي او نه به ورته اشاره کوي.

او د یماني رکن او حجر الأسود تر منځه به : ﴿...رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ﴾ [البقرة: ۲۰۱]. وايي، **ژباړه:** «زموږ ربه! مونږ ته په دنیا کې ښېګڼه (نیکمرغي، سلامتي، رزق) او په آخرت کې هم ښېګڼه (جنت، رحمت) راکړه، او مونږ د دوزخ له عذاب څخه وژغوره».

هر کله چې د حجر الاسود څخه تېرېږي، نو په خپل لاس به ورته اشاره کوي او (الله أکبر) به وايي.

او د طواف په پاتې چکرونو کې د خپلې خوښې اذکار وايي، دعاګانې او د قرآن کریم تلاوت کوي.

سنت دا دی چې یوازې په لومړیو دریو ګردشونو کې رمل وکړي، او رمل په چټکۍ سره لنډو ګامونو اخېستلو ته وايي، او په نورو پاتې څلورو ګردشونو کې رمل نشته، بلکې عادی مزل پکې کوي.

کله یې چې طواف بشپړ کړ، مقام ابراهیم ته ورمخکې کیږی او دا آیت

لولي: ﴿... وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى...﴾ [البقرة: ١٢٥]، او (مونږ وويل:) «له مقامِ ابراهيم نه "لمونځ ځای" جوړ كړئ»، بيا كه شونې وه تر شا يې دوه ركعته لمونځ كوي، كه نه په هر ځای كې چې شونې وه هلته يې كوي چې، په لومړي ركعت كې له فاتحې وروسته: ﴿قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ ۞﴾ [الكافرون: ١]، او په دويم ركعت كې له فاتحې وروسته: ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ۞﴾ [الإخلاص: ١] لولي.

شپږم: د سعې طريقه:

كله چې له طواف او دوه ركعته لمونځ كولو فارغ شو د سعى كولو ځای ته ورځي، كله چې د صفا (غونډۍ) ته نږدې شو: ﴿إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ ... ﴾ [البقرة: ١٥٨] لولي، يعنې: «يقينا چې صفا او مروا د الله تعالى له نښو څخه دي». بيا وايي: "أَبْدَأُ بِمَا بَدَأَ اللّٰهُ بِهِ" يعنې په هغه څه سره پيل كوم چې الله تعالى پرې كړې دى.

بيا صفا ته خيژي تر دې چې كعبه او يا د كعبې لورى وګوري، نو هغه لور ته مخ كوي، د الله تعالى يووالى، تكبير كوي او وايي: (لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ، أَنْجَزَ وَعْدَهُ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ، وَهَزَمَ الأَحْزَابَ وَحْدَهُ)، **ژباړه**: «له الله پرته بل معبود نشته، چې يوازې دى او هېڅ شريک نه لري، پاچاهي د هغه ده او ستاينه هغه لره ده، او هغه په هرڅه قادر دى، نشته بل معبود مګر يوازې يو الله دى، هغه خپله ژمنه پوره كړه، او د خپل بنده مرسته يې وكړه، او

هغه یوازې احزابو ته ماتې ورکړه»، دغه ذکر درې ځلې تکراروي، او په منځ کې یې دعا کوي.

بیا له صفا څخه مروا ته پیدل راکوزیږي، نو کله چې شنې نښې ته ورسیږي، نارینه تر دویمې شنې نښې ته رسیدو پورې خپل تګ ګړندی کوي، بیا له هغې وروسته خپل عادي مزل ته راګرځي او د ښځو لپاره ګړندی تګ جواز نلري.

نو کله چې مروه ته ورسیږي هغه کارونه یې چې په صفا کې ترسره کړي و مروه کې یې هم ترسره کوي. (دویمه فقره).

بیا له مروه څخه صفا ته پیدل راکوزیږي، کله چې شنې نښې ته ورسیږي، نارینه خپل تګ ګړندی کوي تر دې چې دویمې نښې ته ورسیږي، بیا خپل عادي تګ کوي.

او همداسې چې اووه ګردشونه بشپړ شي، له صفا څخه مروه ته تګ یو ګردش او له مروه څخه صفا ته بل ګردش دی.

او په سعی کې یې چې هر ذکر، دعا، او د قرآن کریم تلاوت خوښ وي هغه کوي.

اووم: د سر خریلو او لنډولو طریقه:

کله چې عمره کوونکی خپل طواف او سعی بشپړ کړي، نو که نارینه وي د سر خرییل او یا کمول پرې واجب دي، او سنت طریقه دا ده چې خریل یا کمول باید ټول سر ته شامل وي.

د سر خریل د لنډولو څخه غوره دي، مګر دا چې د حج وخت دومره نږدې وي چې د سر د ویښتانو د ودې لپاره بسنه نه کوي؛ نو بیا غوره ده چې

ویښتان لنډ شي.

او ښځه د خپلو ویښتانو له څوکو څخه د ګوتې د یو بند په اندازه ویښتان لنډوي.

او چا چې د حج لپاره احرام کړی وي، نو که حج یې افراد یا قِران وي هغه به له ویښتانو څخه څه شی نه اخلی، مګر د اختر په ورځ؛ وروسته له دې چې د عقبې جمره وولي.

او پدې سره عمره کوونکي خپله عمره پای ته ورسوله، او همدا رنګه د تمتع حج لپاره عمره کوونکي د عمرې مناسک پای ته ورسول.

❋❋❋

## د حج طريقه

### لومړی: په حج سره احرام تړل:

د هغه چا لپاره چې د حج اراده يې کړې وي، سنت طريقه دا ده چې که دی په مکه کې وي او يا له ميقات دننه وي، نو د ترويې په ورځ (۸ د ذوالحجې) دې له خپل ځای څخه د څاښت په وخت کې احرام وتړي، که نه نو په کوم ميقات چې تيريږي له هغه نه دی يې وتړي.

او د حج لپاره به په احرام کې هغه څه کوي چې د عمرې لپاره يې کړي وو لکه: غسل کول، خوشبوی لګول او لمونځ، نو د حج لپاره به د احرام نيت کوي او تلبيه به وايي، او د حج لپاره د تلبيې ويلو طريقه داسې ده لکه د عمرې لپاره، خو دلته به د : (لَبَّيْكَ عُمْرَةً) پر ځای: (لَبَّيْكَ حَجًّا) وايي.

که چيرته احرام کوونکی ويره ولري چې د مناسکو د بشپړولو په لار کې به ورته کوم خنډ پيدا شي، نو ورته روا دي چې مشروط نيت وکړي او ووايي: (وَإِنْ حَبَسَنِي حَابِسٌ فَمَحَلِّي حَيْثُ حَبَسْتَنِي) (که چيرته د کوم خنډ له امله بند پاتې شوم، نو له احرام څخه د خلاصيدو ځای به مې همغه وي چيرته چې بند پاتې شوم)، نو کله يې چې دا شرط ولګاوه او بيا ورته کوم خنډ پيدا شو چې له امله يې مناسک پوره نه کړای شول، نو له احرام څخه به ځان خلاص کړي او هيڅ شی پرې نشته.

بيا به دا تلبيه ډيره وايي: (لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ) چې نارينه به يې په لوړ غږ وايي او ښځينه به يې هم په لوړ غږ وايي خو پدې شرط چې بيګانه سړي نه

وي، د احرام کوونکي لپاره مناسب ده چې تلبیه ډېره تکرار کړي، په ځانګړې توګه کله چې حالات او وخت بدلون مومي، لکه په لوړ ځای پورته کېدل، یا ټیټ ځای ته کوزېدل، یا د شپې او ورځې تلل راتلل.

او له احرام ترلو څخه تلبیه ویل روا دي، تر دې چې د اختر په ورځ د عقبه جمرې ویشتلو ته ورسیږي.

پر محرم واجب دي چې د احرام په ممنوعه کارونو کې د احرام تر پایه ښکېل نه شي، ترڅو چې له احرام حلال شي.

***

دویم: په منا کې شپه تېرول:

بیا په اتمه ورځ سنت طریقه دا ده چې منا ته لاړ شي؛ هلته د ماسپښین، مازدیګر، ماښام، ماخوستن او سهار لمونځونه هر یو بېل بېل په خپل وخت کې قصر ادا کړي؛ ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به په منا کې لمونځونه هر یو په خپل وخت کې قصر کول.

دریم: په عرفات ودریدل او په مزدلفه کې شپه تېرول:

نو کله چې د نهمې ورځې - چې د عرفې ورځ ده - لمر راوخېږي، له منا څخه عرفات ته روانیږي، نو که شوني وه په نمره کې تر زوال پورې تم کیږي، کنه باک نه لري؛ ځکه چې په نمره کې تم کېدل سنت دي.

کله چې زوال وشي نو د ماسپښین او مازدیګر لمونځونه دوه دوه رکعته کوي او د دواړو وختونو لمونځونه سره په ماسپښین کې یو ځای کوي چې دې ته (جمع تقدیم وایي)، لکه څرنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم کړي و.

بيا د لمانځه پسې ذکر، دعا او الله تعالی ته د زارۍ کولو لپاره ځان فارغوي، قبلې ته مخ کوي، لاسونه پورته کوي او د خپلې خوښې دعاګانې کوي.

او په دې لوی موقف کې به د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعا دا وه: (لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ).

«له الله پرته بل معبود نشته هغه يو دی شريک نه لري، د هغه لپاره پادشاهي ده او د هغه لپاره ستاينه ده، او هغه په هر څه قادر دی».

نو که چېرته ستړی شو او غوښتل يې چې له خپلو ملګرو سره ګټورې خبرې اترې وکړي، يا ګټور کتابونه ولولي، په ځانګړې توګه هغه چې د الله تعالی د سخاوتمندۍ او پراخو انعامونو سره تړاو لري؛ د دې لپاره چې په هغه ورځ يې د هيلمندۍ اړخ پياوړی شي نو ښه ده، بيا بيرته الله تعالی ته په زارۍ کولو او دعاګانو سره راګرځي، او کوښښ کوي چې د ورځې وروستۍ برخه د دعا لپاره فرصت وګڼي او ګټه ترې واخلي، ځکه چې غوره دعا د عرفې د ورځې دعا ده.

کله چې د عرفې د ورځې لمر ډوب شي، مزدلفې ته روانيږي.

کله چې مزدلفې ته ورسيده نو د ماښام لمونځ درې رکعته او د ماخوستن لمونځ دوه رکعته کوي؛ دواړه لمونځونه سره (په ماخوستن کې) يو ځای کوي.

او که چېرته يې ويره درلوده چې مزدلفې ته به له نيمې شپې وروسته ورسيږي، نو بيا لمونځ کوي، که څه هم مزدلفې ته له رسيدلو وړاندې وي، او

ورته روا نه دي چې لمونځ له نیمې شپې بعد وخت ته وروسته کړي.

په مزدلفه کې شپه تیروي، کله چې رڼا شي د سهار لمونځ وخته له اذان او اقامت سره کوي.

بیا د مشعر الحرام په لور روانیږي، الله تعالی په یووالي سره یادوي، تکبیرونه وايي او د خپلې خوښې دعاګانې کوي، تر دې چې ښه رڼا شي، او که مشعر الحرام ته یې تلل نه کېدل، نو په خپل ځای کې دې دعا وکړي؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «وقفت هاهنا وجمع كلها موقف»، (زه دلته ودرېدم او ټوله مزدلفه د ودرېدلو لپاره ځای دی) دا په داسې حال کې چې قبلې ته به یې مخ کړی وي او د ذکر او دعا لپاره به یې لاسونه پورته کړي وي.

## ځلورم: د اختر د ورځې کارونه:

کله چې ښه رڼایي ولګیږي، نو د لمر ختو نه مخکې له مزدلفې څخه منا ته روانیږي، او په وادي محسر نومې ځای کې (چې یو خوړ دی) ګړندی کیږي.

کله چې منا ته ورسیږي د عقبې جمره په اوو کاڼو پرلپسې ولي، دا تر ټولو وروستۍ جمره ده چې مکې مکرمې ته نږدې ده، هر یو کاڼی باید د خرما د زړي په اندازه وي تقریبا، او د هر کاڼی سره الله اکبر وايي.

بیا که شوني وه خپله قرباني حلالوي.

بیا نارینه خپل ویښتان خروي یا یې لنډوي او خرول غوره دي، او د ښځو لپاره د ویښتانو خرییل نشته، هغوی یوازې د ویښتانو څوکې اخلي.

نو کله یې چې جمره وویشته، ویښتان یې وخریل، لومړی تحلل ورته حاصل شو چې پدې سره ورته له ښځې پرته نور هر څه حلالیږي.

بيا د افاضې د طواف لپاره مکې مکرمې ته ځي، نو طواف کوي او بيا يې که حج تمتع و، نو د حج لپاره سعي کوي، او که مفرِد يا قارِن و او د قدوم له طواف نه وروسته يې سعي نه وه کړې، نو سعې کوي، او کولی شي چې طواف او سعي شپې ته يا دويمې ورځې ته وروسته کړي، چې هر ډول ورته اسان وو.

پنځم: د تشريق د ورځو اعمال:

کله يې چې جمره وويشته، طواف او سعی يې وکړه، نو په پوره توګه ورته تحلل حاصلېږي، آن د خپلې ښځې سره يو ځای کېدل ورته روا کيږي.

بيا منا ته ګرځي، هلته يوولسمه، دولسمه او درېارلسمه شپه تېروي؛ ديارلسمه شپه د هغه چا لپاره ده چې تر پايه د پاتې کېدلو اراده ولري.

او درې واړه جمره به له زوال څخه وروسته ولي.

په يوولسمه ورځ لومړی جمره په اوو کاڼو پرلپسې ولي - هغه چې له مکې څخه تر ټولو لرې او خَيف جومات ته نږدې ده - له هر کاڼي سره تکبير وايي.

بيا لږ مخکې ځي او د خپلې خوښې اوږده دعا کوي، که د اوږد وخت لپاره ورته ودرېدل او دعا کول سخت و، کولی شي د لږ وخت لپاره تم شي او آسانه دعا وکړي تر څو سنت طريقه پر ځای شي.

بيا په همدې ډول منځنۍ جمره ولي او وروسته ترې دعا کوي.

بيا د عقبې جمره ولي، خو وروسته ترې دعا نه کوي او روانيږي.

بيا په دولسمه ورځ هم لکه د يوولسمې ورځې په څېر جمرې ولي؛ نو کله يې چې د جمرو ويشتل بشپړ کړل، کولی شي بيړه وکړي او له منا څخه ووځي.

او که يې غوښتل چې تاخير وکړي، او تاخير کول غوره دي، نو ديارلسمه

شپه تيروي، درې واړه جمرې له زوال نه وروسته لکه د تېرو ورځو په څېر ولي.

او ديارلسمې ورځې ته پاتې کېدل (تأخير) واجب نه دی، مګر دا چې د دولسمې ورځې لمر پرې په منا کې ډوب شي، نو بيا پرې تأخير لازمي دی، چې بايد پاتې شي او په ديارلسمه ورځ له زوال نه وروسته درې واړه جمرې وولي.

خو که د ده له اختيار نه پرته پرې دوولسمې ورځې لمر په منی کې ډوب شو ، د بېلګې په توګه چې روان شوی وي، موټر کې سپور شوی وي، خو د موټرو د بيروبار او يا بل څه له امله پرې ناوخته شي؛ نو بيا اړين ندی چې پاتې شي؛ ځکه چې تر لمر ډوبېدو يې ځنډېدل بې اختياره و.

شپږم: طواف الوداع:

کله يې چې له مکې څخه خپل هېواد ته د وتلو اراده وکړه نو له طواف الوداع پرته به له مکې څخه نه وځي.

مګر هغه ښځې چې حيض يا نفاس ولري، پر هغوی طواف الوداع نشته، او نه ښايي چې د مسجد الحرام په دروازو کې د مخه ښې لپاره ودرېږي؛ ځکه چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ثابت ندي.

او کله چې غواړي سفر وکړي نو طواف الوداع دې د بيت الله شريف سره خپل وروستی کار وګرځوي.

که چيرته له طواف الوداع نه وروسته - خپلو ملګرو ته د انتظار، يا سامان بارولو، يا په لار کې سودا اخيستلو له امله - پاتې شو باک نه لري او طواف به بيا نه کوي، مګر دا چې د سفر د وروسته کولو اراده ولري، بيا دې د بېلګې په توګه خپل سفر د ورځې پای ته وروسته کړي، او اړين دی چې بيا

د مخه ښې طواف وکړي تر څو يې وروستی ديدار د بيت الله سره وشي.

❋❋❋

# فهرست

پيليزه:............................................................................................................. ١
د حج لنډه طريقه......................................................................................... ٣
لومړی: د ميقاتونو احکام:................................................................................. ٣
دويم: د مناسکو ډولونه او د هغوی احکام:.......................................................... ٣
دريم: د احرام طريقه او حکمونه:....................................................................... ٤
څلورم: د احرام ممانعتونه:................................................................................ ٦
پنځم: د طواف طريقه:..................................................................................... ٨
شپږم: د سعې طريقه:.................................................................................... ١٠
اووم: د سر خريلو او لنډولو طريقه:..................................................................... ١١
د حج طريقه................................................................................................. ١٣
لومړی: په حج سره احرام تړل:.......................................................................... ١٣
دويم: په منا کې شپه تېرول:............................................................................ ١٤
دريم: په عرفات ودرېدل او په مزدلفه کې شپه تېرول:........................................... ١٤
څلورم: د اختر د ورځې کارونه:......................................................................... ١٦
پنځم: د تشريق د ورځو اعمال:......................................................................... ١٧
شپږم: طواف الوداع:...................................................................................... ١٨
فهرست..................................................................................................... ٢٠

❊❊❊

رئاسة الشؤون الدينية
بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

# رسالة الحرمين

## د حرمين پيغام

د مسجد الحرام او مسجد نبوي زيارت كونكو لپاره لاربښود
مواد په ژبو كې